**ليکونکی :** **ماتيو هوه** (Mathew Hoh):



**منبع اود خپريدو نيټه** : کونټر پنچ «23-11-2020»

**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سيد حسام «مل» .

---

# دبايدن اخلاقی خطره

## Biden's Moral Hazard




دعکاسی منبع: Thierry ehrmann cc By 2.0

وروسته له دی چي زه په کا ل «2009» په ا فغا نستا ن کی د بهرنيو چارو وزارت سره درابط غړی په حيث له خپل دندي دافغان دجګړی دزيا تيدو له امله استعفا ورکړ ، له ما وغوښتل شو چي زه بايد داولسمشر داستخباراتو مشورتی بورډ ( President's Intelligence Advisory Board (PIAB) سره ووينم په هغه وخت کی ددی بورډ (PIAB) يوه غړي غوښتل پوه شی چي ولی هغه شيان چي زه دافغان دجګړی په اړه وايم يا هغه شيان چی می ليدلي ،د پوځ ديپلماتيک اواستخباراتی افسرانو له خوا کوم چي هغه ،هغوی په شخصی ډول سره پيژند لی وه همغسی کټ مټ اولسمشر ته په

رسمي ډول نه ویل کیږی یا چې هغوی اولسمشر ته نه ویل ، ځواب ساده او ریښتیني وه او هغه داچې اولسمشر **«اوباما»** ته په سیستماتیک ډول دخلکو په استاذیتوب سره دروغ ویل کیده او هغه داچې هغی ته د جنګ د مشرتوب غلط مشوری ورکولی .

راتلونکي میا شتي امریکا یی ورځپا ڼی کوم چې یو لړ مطا لب دا فغا نستا ن د پیپر ترعنوان لاندی دا فغا نستان په ورځ پا ڼوکی دامریکي د دولت مخفی اویا پټ اسناد چې له هغه څخه نه انکار کیدی دیو پراخ ټولګي په بڼه سره خپور کړ چې له هغه څخه یوکال تیریږي ، او هغه داچې ددي مخفی اسنا د و جزیا ت په همغا ړیتوب اوپه پوره هڅی سره دامریکا یی دولت د دری پر له پسی جمهورو ریسا نو له لاری خلکو ته دروغ ویل شوی کوم چې دهمدی درواغو په رڼا کی وروسته بیا امریکا یی یرغلګرو ته پر **عراق** با ندی د تجاوز یا دبرید شرایط مساعد کیږی چې د دغه برید له امله عراق دړی وړی اود خاوری سره خا وری کیږي . د بلی خوا څخه بیا په کا ل «2011» کی پر **لیبیا** باندی دجوړ کړ شوی دروغو په رڼاکی حمله کیږي کوم چې داجګړه د **بریتانیا** په پارلما ن کي هم مستند کیږي ، ژبه خوید نه « لغزش زبان» اود امریکی دلوړ پوړو مقاماتو رسوا کید ل اودهغه له جملي څخه خپله دامریکی جمهور ریس وښود: چې دامریکی د متحده ایالاتو اود هغه د متحد ینو نقش د سوریی په جګړه کي د ا لقاعدی اود ا سلامی دولت څخه ملاتړ وه .

دامریکی عامه خلکو ته دا ډول دروغ وینه زیا تر د تر اشغا ل لاندی خلکو د شکنجی ورکولو په اړه ویل شوي کوم چې دغه اشغالګرو دهغه خلکود تیلیفونو مکالمی ،انترنیتی یا کمپوټری فعالیتونه تر خپل استخباراتی نظارت لاندی نیولي اوپه حیرانونکی بڼی سره د تراشغال لاندی ګڼ شمیر بی ګناه خلک وژلی اویا له مینځه وړي دي یا داچې دامریکی د قوتونو حضور د ا فریقي په لویه وچه کی ، هغه ډول غیر انسا نی کړنی چې تر سره کړي یا یی کوی پر هغه باندی برغولی ایښی دی کوم چې ګڼ خلک یی یا وژلی یا ټپیا ن کړی چې لا تراوسه دامریکی د کا نګرس غړی د دوی له دی ډول کړنو څخه خبر نه دی یا داچې بی خبر پا تي کړی شوی دي .

دامریکي ټاکل شوو لوړ پوړو چارواکو او هم دامریکی عامه خلکو ته دا ډول دروغ وینه لاتر اوسه دوام لري ، په همدی میا شت کي ښاغلي **جیمس جبری**(James Jeffrey) سفیر ، ژورنالستانو ته تشریح کړل چي هغه څنګه په سوریه کي دمتحده ایالاتو اولسمشر ته دامریکی د سرتیرو دشمیر په اړه په زړه پوری دروغ ویلی دي ، او هغه هم په هغه صورت کی چی تا سو فکر کوی دا سم دی ځکه چي اولسمشر« دونالد ترامپ» وو،تاسی باید په یاد ولري چي ددموکرا ت ګوند پوری دمربوط سناتورانو کمپیوترونه د (سی آی ای) د شکنجی ورکولو برنامی د تحقیقاتی ستاد دغچ اخیستو په لړ کي دهغه نهاد له طرفه هک شوی وو.

کله چي دوژل شووپوځی قراردادیانو، دافغان اود عراق دپخوانیو ځان وژونکووژنوشمیره پکښی شامله شي ، نوپه دی جنګونو کي دوژل شوو ځوانو امریکایانو شمیر نژدی (2500) نفرو ته ریسږي چي دهغه په څنګ کی تقریباً د متحده ایالاتو (50000) نظا می پرسونل کم یازیات ټپیان شوی دي .
کوم چی دهمدی جګړی له امله تر نیم ملیون پوری په جګړه کی زیدخل پرسونل ته دماغی صدمات را رسیدلي یا داچی له ضربی وروسته په رواني تشوش (post traumatic stress disorder) با ندی اخته شوی اویا د تل لپاره معلول پا تی شوی دي . د بلی خوا څخه په بهر کی له یو ملیون څخه زیات شمیر خلک مړ شوی ، لسګونه ملیونه ګډوالی شوي او ټول ملتونه له اقتصادي ، چا پیر یا ل اود روانی له پلوه ویجا ړ شوی یا چی متضرر شوی دي . سربیره پر هغه ددی جنګونو روان ما لی لګښت (6,4) تریلیون دالر اټکل شوی چي پکښی نژدی « یو تریلیون ډالر» دپور دسود تادیات شامل دي ، په داسی حا ل کي چی هر کال متحده ایالات پرخپل پوځ اودملی امنیت په چارو کي شاوخوا(1;2) تریلیون دالر لګوی یا چي په مصرف رسوي.

له یاده ونه با سی چی دامریکی ددولت چاري اوس (**جو بایدن** ) ته ا نتقا ل مومی اورسنیو د

*( **جوبا یډ ن** ) د کا بینې د احتما لی نوما ند و د شهرت اود بیوګرافی په خپرولو چمتوالی نیسی یعنی دهغو نوما ند و نومونه چي د پنتاګون اود متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ته کوم چی دهغه ځنی اداری په فوګی باټوم (Foggy Bottom) کی پروت دی یا چی دامریکی دامنیت شورا ځوکیو ته په ګوته کوي یا انتصابوی .اودوی له هغه نارینه او ښځینه کسا نو څخه دي چي دتیرو شلو خونړی او ګډوډیو کلونو اود امریکي دجګړي د پا لیسی ته اړینی او مسول کسا ن دي.*

*ددی پورتنی یادونی په لړ کي ، که څوک دستاسی د کارځای ته کوم چي تاسی **هلته** ددوو لسیزو په موده کي یولړ بی ګټي او بیهوده کارونه ترسره کړی وی ، دستا سی دغه بیهوده کارونه په یو اوږد لست کی ولیکی ، ایا تا سی پخپله بیا هم ځا نته حق رورکوي چي د قدرت په نوی مقام کی استخدام شی یا په کار وګمارل شي ـ په هر صورت تر دی دمه د **( بایډن)** دلیږد ټیم لخوا د ټولو نښو څخه داسی را ښکاری چی دا همغه ورته او کټ مټ پلان دی یعنی دهمغه کسانو ګمارل دی چی مونږ له هغو څخه پورته یادونه وکړل .*

*« **جوبایډن** » « ژمنه کړی» چي هغه په (تاریخ کي به تر ټولو پرمختللی اولسمشر شي ) ، که **(بایډن)** په دي اړه جدي وي ، نو دهغه پرمختګ باید بهرنی او نظامی سیاست ته اوږد شی اوباید چي د تیرو (شلو) کلونو تیر وتنو ، غلطیو او جرمونو ته رسیدګی وکړي او په تیره بیا دهغو خلکو څخه دی پوښتنی وکړی کوم چي په سیستیماتیک ډول دروغ ویلو کي دا جنګونه را مینځته کړي اویا د دروغو په ویلو سره د دی جنګونو لمن پراخه کړي دي اودا په دي مفهوم دی چي د **( با یډ ن)** اولسمشری داخلاقی خطره سره مخا مخ دی اویواځي دا ثبوت ورکوي چی متحده ایالات په نړۍ کي د ډیر مړنی اود تلفا تو درامینځته کید و په لور روان دي .*

## ځو کرښی د لیکونکی په اړه :

*میتو هو دتوضیحی حقیقتونو د مشورتی بورډ غړي دي ، د جګړی لپاره د سولي او د نړي لپاره تجربه کونکی په کا ل (2009) کی هغه د **(اوباما)** اداری له خوا دافغان جګړی د زیا تیدو په اعتراض کی دا فغا ن د بهرنیو چارو وزارت سره د اړین غړی له د ندی ا ستعفا ورکړ ، هغه مخکي په عراق کي د بهرنیو چارو وزارت له ټیم اود متحده ایالاتو سمند ری ځواکونو سره هم کارونه تر سره کړی او هم د نړیوال پا لیسی د مرکز لوړپوړو سره له نژدی ملګری وو.*

**_________________________ په سلامونو «25-11-2020»**